مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آريا　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　۲۰۲۳/۰۸/۰۱

# د افغانستان سیاسي - تأريخي ژورنال
**(د افغانستان سياسي تأريخي گزيتر)**

## پينځم توک
## کندهار
## او
### د افغانستان سويل – مرکزي برخي

دوه سوه او يوپينځوسمه پرله پسي برخه
ايديت:
ډاکټر لودويگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**ملا مشکي:** ۲۴ – ۳۱، ۴۳ – ۶۶ «ج»: دا د نورزيو يو کلی دی چې د نارين د غرنی لړی تر شمال لويديځو ډډو لاندې د ارغسان د سويل په ۴ مايلی کې واقع دی. «بن» *دا کلی د «تهانه شين ناري» [1] د شمال په تقريباً ۶ مايلی کې واقع دی.*

**ملا نواب:** ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا د کشوبي «خوړې اوبـهٔ - ژ» په درې کې يو کلی دی. «کليفرډ»

**ملاپاینده:** ـ۳۱، ـ ۶۵: دا «لوهدي کاريز» [2] ته نيږدې په دامان یا کاريزات کې يو کلی دی. «بيسکو»

**ملا رفيق:** ـ ۳۱، ـ۶۶: دا د کشوبي «خوړې اوبـهٔ - ژ» په درې کې يو کلی دی. «کليفرډ»

**ملا سيد** «سعيد؟» ځاه: دا د بلوڅ پر سرحد د ۱۱ خاصه دارانو يوه پوسته ده.

**ملا شکور:** ـــ ۳۱، ـــ ۶۵: دا د کندهار د شمال ختيځ په ۱۱ مايلی کې يو کلی دی. «بيسکو» *اوسنی نقشې د «شکور کلی» په ۴۲ – ۳۱، ۵۰ – ۶۵ «ن» کې ښيي.*

---

[1] - Tahana Shin Narai
[2] - Lohdai Karez



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**ملا یعقوب**: ۹ – ۳۱، ۲۰ – ۶۶ «ج»: دا د کشوبي «خوړي اوبـــهٔ - ژ» په درې کې یو کلی دی. «کلیفرډ» *په دې نوم بل کلی د عبدالرحمن د شمال په تقریباً ۳ مایلی کې په ۴۶ – ۳۱، ۴۱ – ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.*

**ملا زمرد**: زمروت: ۳۱ – ۳۱، ۳۲ – ۶۷: دا د کند د ســیند پر کیڼې غاړې د توخي غلزیو یو کوچنی کلی دی چې د رشید کلا په مخالف لوري کې موقعیت لري. «بن»

* **مومو خیل**: ۴۱ – ۳۱، ۳۶ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د ارغسان د کلي په شمال کې د خشک رود پر غاړه یو کلی دی.

**مـُنـدي آباد**: ماند آباد: ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا د میوند په ولسوالی کې یو کلی دی. «لیچ»

**مندي گک**: ۵۴ – ۳۱، ۳۲ – ۶۵ «ن»: دا د خاکریز د درې په سویل ختیځ اړخ کې یو کلی دی چې د سیاه سنگ د کوتل له لارې له ارغسان څخه ورته لاره راغلې او د سیاه سنگ د کوتل له سره تقریباً ۵ مایله لیرې دی. «لینس» اوسنی نقشې د «مونده گک» نوم ښیي.

**مراد خان**: ـــ ۳۰ - ـــ ۶۶: دا د پوتي په ولسوالی کې یو لوی کنډواله کلی دی چې د ښوراوک د دښتې په شمالي منتهی الیه کې واقع دی. دا کلی د جت پوتي د شـــمال ختیځ په تقریباً ۴ مایلی کې واقع دی چې د ابوزیو له کلي څخه دومره ډیر لیرې نـــهٔ دی. «میتلند» *په دې نوم نور کلي دغو ځایونه کې موقعیت لري: په ۱۳ – ۳۰، ۱۴ – ۶۶ «ن»، په ۲۹ – ۳۲، ۲۵ – ۶۷ «ن»، او په ۰ – ۳۱، ۱۰ – ۶۶ «ج» کې.*

**موریز شاه**: دا د بلوخ پر سرحد د ۱۱ خاصه دارانو یو کلی دی. «آی. بي. سي.»

**مـُرگی**: دا د نورزیو د قبیلې د «گورک» [3] د فرعي څانگه یوه برخه ده چې د خواجه عمران د غرنی لړی او د «گانتي» [4] د غرونو تر منځ استوگنه لري. «کلیفرډ»

**مُرغی**: یا: مَرغی: ۳۴ – ۳۱، ۳۴ – ۶۷ «ن»: دا کند د سیند د شمال د ۵ مایلی په هغـــهٔ ټکي کې د توخي غلزیو یو کلی دی چې نوموړی سیند د بلوخ سـرحد جوړوي. دا کلی د «ژوبې» [5] د غرنی لړی د یوهٔ ټیټ مهمیز سـویل ته واقع دی. له دې ځایه د کاریز اوبـــهٔ، د اوښانو څرځای او لږ اندازه بهوسه ترلاسه کیدای سي خو سون توکي په کې په قلت دي. «بن، ۱۸۹۴»

* **مرغکی**: ۲۰ – ۳۱، ۴۲ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د «الا جرگه» [6] د ســویل لویدیځ په تقریباً ۴ مایلی کې د کدني د سیند پر غاړې یو کلی دی.

**مُرغان**: ۳۸ – ۳۱، ۳۹ – ۶۵ «ن»: دا په قریه جاتو کې یو کلی دی چې د «گـُـنديگان» [7] د لویدیځ په ۲/۱ مایلی کې واقع او د همدې کلي په شان د یوې لوړې سطحې پر مخ ودان سوی دی. دا کلی میان جوی ته نیږدې دی. «بیسکو»

**مرغانکپچه**: یـا: مرغان کچه: ۳۲ – ۳۱، ۵۸ – ۶۵ «ن»: لوړوالی: ۳۶۶۰ فیټه: دا د پوپلزیو یو کلی دی چې کلیفرډ، مسـي او گیسـلي شـرحه کړې او وایي چې ۲۰۰ کورونه لري او له ماندې حصـار څخه ۷ مایله لیرې، بابړ ته د

3 - Gurak
4 - Ganti
5 - Zhobai range
6 - Ala Jirga
7 - Gundigan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

تللي سرک پر غاړي واقع دی چې له بابړ او د ارغسان په درې کي له نورو ځایونو څخه د ۹ مایلو په واټن لیرې موقعیت لري. له ظواهرو ښکاري چې دا کلی دې هماغه کلی وي چې بیسکو د «انهار مندوزي» د کلیو په یوهٔ لیست کي یاد کړی او د قریه جاتو یوه علاقه ده، بیسکو وایي چې دا کلی ۱۳۷ کورونه او ۴۱۰ تنه استوګن وګړي لري. دا کلی د ترنک د سیند په کیڼي غاړي کي د یوې پراخي دښتي پر مخ واقع دی چې «د جګړن پریر د اټکل پر بنسټ» ۳۶۰۰ فیټه لوړوالی لري او د کلیفرډ په وینا په ژمي کي د ترنک پریمانه اوبــهٔ ورته راځي خو په دوبي کي کله چې د سیند اوبــهٔ د سیند د اوبو د بهیر په پورتینو برخو کي د شته وو کلیو له پلوه قطع سي دا کلی خپلي اوبــهٔ له بې شمیرو څاهانو څخه تر لاسه کوي چې له ۱۵ تر ۲۰ فیټو پورې ژورې دي. نوموړي دواړه افسران او جګړن پریبر چې د فبرورئ د میاشتي په شلمه «کال نه دی ویل سوی – ژ» دې کلي کي وو وایي چې اوبــهٔ ئــي ښې دي؛ خو بریدمن مسي چې ۸ ورځي وروسته دې کلي کي دمه سوې وایی چې اوبـهٔ ئـي تروې دي او قسماً د اوبو له هغهٔ بهیره تر لاسه کیږي چې د کلي له منځه تیر سوی دی. یوه ناله چې له باران وروسته د یوځي ځواک د توپونو تیرول ورڅخه د ځمکي د باتلاقي جوړښت له کبله ګران دي د دې کلي له څنګ څخه تقریبا یو مایل لیرې مندي حصــار ته د لارې په اوږدو کي واقع ده، له دې پرته مندې حصــار او د ارغسان درې ته تللي لاره نسبتاً ښه او له جغلو او کانو ډکه ده.

د کلي په ختیځ کي د کمپ لپاره ښــهٔ ځای سته؛ ویل سوي چې د اړتیا وړ توکي دلته پریمانه دي او هم د کلي په ګاونډ کي د اوښانو ښـــهٔ څړځایونه سته. پریبر ته خبر وکړل سو چې د کلي یوه برخه د کندهار د ګارنیزیون د یوې برخي لپاره د امیر له پلوه د بارکونو په توګه کارول کیدله. د «جګړن ویللاک» [8] یوه شرحه په لاس لیکل سوې ده، دا شرحه او ظاهراً د بریدمن مسي د معلوماتو پر بنسټ د ډاډ له مخي جوړه سوې ده، جګړن ویلاک په ډاډه زړهٔ وایي چې د دې کلي او په کندهار کي د «پیکت» [9] د غرونو تر منځ ارتباط د هیلوګرافي له لارې تینګیدلای ســي. «کلیفرډ، بیســکو، مســي، پریبر، ګیسلي»

**موري:** ۲۷ – ۳۳، ۳۸ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کي د «آجرستان» د سیند پر غاړه د بمبلستان د سویل په تقریباً ۱ مایلی کي یو کلی دی.

* **موریاني:** ۱۱ – ۳۲، ۲۹ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کي د ارغنداب د ســیند پر غاړه د میزان د شــمال لویدیځ په تقریباً ۲ مایلی کي یو کلی دی.

**مُرت کلا:** ۳۰ – ۳۱، ۳۷ – ۶۵: دا د ترنک د ســیند په ښــي غاړي کي د کندهار د ســویل لویدیځ په ۶ مایلی کي یو کلی دی. «بیسکو»

**مورزي:** دا د اڅکزیو یوه څانګه ده. «بیسکو»

* **موسی کاریز:** ۴۸ – ۳۱، ۲۱ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کي د سنجري د شمال لویدیځ په تقریباً ۲۰ مایلی کي د لویې ماندې د سویل په تقریباً ۳ مایلی کي یو کلی دی.

* **موسی خان کلی:** ۳ – ۳۱، ۲۳ – ۶۶ «ن» دا د کندهار په ولایت کي د کدني د سیند پر غاړې د سپین بولدک د شمال په تقریباً ۳ مایلی کي یو کلی دی.

[8] -Major Willock
[9] - Picquet hill


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**موسی خیل**: ۱۶ – ۳۲، ۱۱ – ۶۷: دا هغه کوچنی کلی دی کله چې له قلات غلزايي څخه د غزني پر لور د مارش په لړ کې د جنرال ستيوارت ځواک د ۱۸۸۰ز کال د اپريل په مياشت کې دلته دمه وکړه او د اړتيا وړ توکي ئـي ورڅخه راټول کړل. دا کلی د نورک د کمپ د سيمي د سويل ختيځ په تقريباً ۳ مايلی کې واقع دی. «آی. بي. سـي.» *په دې نوم نور کلي په ۳۱ – ۳۲، ۸ – ۶۷ «ن»، ۴۶ – ۳۲، ۴۷ – ۴۶ «ن»، ۳۶ – ۳۳، ۱۸ – ۶۷ «ن»، او په ۱۰ – ۳۳، ۲۲ – ۶۸ «ج» کې واقع دي.*

**موسی خيل**: دا له غزني څخه د مستقيم سړک له لارې ۱۵۲ مايله ليرې او له کويټي څخه ۱۴۳ مايله ليرې درې کوچني کلي دي.

دغو کليو کې هوتک غلزي اوسيږي.

**موسی خيل**: دا د توخي غلزيو يوه څانگه ده چې د ترنک پر غاړه استوګنه ده. «ملوی»

**موسی تالو**: ۵۳ – ۳۰ – ۵۵ – ۶۵: دا د اوبو يوه کوچنی زيرمه ده چې د جت پوټي او سيد بس تر منځ له سيد بس څخه تقريباً ۴ مايله ليرې واقع ده «اي. بي. سي.»

**موسی اولک**: ـــ ۳۱، ـــ ۶۶: ويل سوي چې دا د معروف د کلا په شمال ختيځ کې د غزني – کويټي د سړک پر غاړې د هوتک غلزيو د استوګنې يوه سيمه ده. «آی. بي. سي.»

* **موسی زي**: ۴۰ – ۳۲، ۱ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د تيرين د سيند پر غاړه مير آباد «مر آباد» ته نيږدې يو کلی دی.

**موسی زي**: دا د نوزيو يوه څانګه ده چې د خواجه عمران د غرنی لړۍ او د «ګانتي» د غرونو تر منځ سيمي کې ميشت دي. «کليفرډ» *اوسنی نقشي په دې نوم يو کلی د شاه جوی د سويل په تقريباً ۵ مايلی کې په ۲۸ – ۳۲، ۲۵ – ۶۷ «ن» کې ښيي.*

**موسی زي**: دا د ترنک پرغاړه د توخي غلزيو يوه څانګه ده او يو شمير ئـي په ناوه کې دي. «ملوی»

**موسی زي**: دا د اخکزيو يوه څانګه ده.

**موشک**: ۴۱ – ۳۱، ۳ – ۶۵ «ن»: دا په کشکِ نخود کې يو کلی دی. «ليچ»

**موشان**: ۲۸ – ۳۱، ۱۵ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د سويل لويديځ په تقريباً ۲۲ مايلی کې او له چهار دِهي ۲ مايله ورهاخوا يو کلی دی. «بيسکو» په دې نوم بل کلی په ۲۷ – ۳۱، ۱۶ – ۶۵ «الف» کې موقعيت لري.

* **موشان سره**: ۱۶ – ۳۱، ۱۶ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د دو آبه د سويل په تقريباً ۱۵ مايلی کې يوه سيمه ده. څو مايله وړاندې ئـي د «موشان سره» [10] دښته ده.

* **مسلم زي**: ۵۷ – ۳۱، ۴ – ۶۷ «ن» دا د زابل په ولايت کې د سور غرۀ د شمال لويديځ او د بورَګي د سويل ختيځ په تقريباً ۴ مايلی کې يو کلی دی.

**موټاخان خيل**: دا د توخي غلزيو يوه کوچنی فرعي څانګه ده چې د کند د سيند پر غاړو په جبار کلا، عطاء محـــمد کلا، ايمان خوني او مرګي کلا کې استوګن دي.

---

10 -Mushan Sra Dasht



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**نبي: ـــ ۳۱، ـــ ۶۶**: دا د خشک رود له لارې له قلات غلزايي څخه د ارغسان تر درې پورې د سرک پر غاړې يو کلی دی چې له قلات غلزايي څخه ۴۰ مايله ليرې دی. «پراييږ»

* **نبي داد کلی**: ۴ – ۳۱، ۲۳ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د کدني سـيند ته نيږدې د سـپين بولدک د شـمال په تقريباً ۵ مايلی کې يو کلی دی.

* **نادي**: ۳۱- ۳۱، ۱۷ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د ارغنداب د سيند په شمال کې او له کندهاره تر گرشـک پورې د سړک د سويل په تقريباً ۵ مايلی کې يو کلی دی.

**نادري**: ۳۵ – ۳۱، ۴۲ – ۶۵: دا د کندهار د سويل په ۲ مايلی کې له ختو د جوړو جوړښتونو د کنډوالو يوه ټولگه ده، دا د هغه ښار پاتې شوني دي چې نادر شاه «افشار- ژ» ئـي د جوړولو هڅه وکړه. «اتيکسن»

**نادر دِه**: ۳۹ – ۳۱، ۲۱ – ۶۷ «ج»: دا د معروف په ختيځ کې د کويټې – غزني د سـړک پر غاړې يو کوچنی کلی دی. کيدای سي د دې کلي نوم له ۱۸۸۹ راپه ديخوا له يوې مخې بدل سوی وي. «آی. بي. سي.»

**نادر قلعه**: ۳۹ – ۳۱، ۲۱ – ۶۷: ويل سـوي چې دا د بابکر له څاهانو څخه تقريباً ۲ منزله ليرې د سـرخاب پر غاړې په دې نامـهٔ کومه سيمه سته. داسې ښکاري چې دا دې هماغه «نادر دِه» وي. دلته د توخيانو ډيره کرهنه سوې او له سرخاب څخه د اړتيا وړ توکي او اوبـهٔ ترلاسه کيدای سي. «بن»

**ناگهان**: ۳۸ – ۳۱، ۳۵ – ۶۵ «ج»: دا د کوکران په مخالف لور کې د ارغنداب د سـيند پر ښـی غاړه باندې يو کلی دی. شير احمد د ناگهان او د جوی ناگهان تر منځ واقع دی. «بيسکو»

**نغور سيل**: [11]: ـ ۳۱، ـ ۶۸: دا د قنديل د سيند او شاران توی تر منځ يوه غرنی لړی ده چې له شماله مخ پر ختيځ ځغلي او د زمرياني قبيله په کې استوگنه ده چې له همدې کبله د زمرياني د لړی په نوم هم يادېږي. «بن»

**نهر**: ۳۲ – ۳۱، ۲ – ۶۸ «الف»: دا د «وازې خر» [12] «وازې خوا – ژ» د لړی په ختيځ کې د غرونو يوه ټيټه لړی ده. له دې لړی څخه له شمالي بلوڅستان څخه تر مقر پورې سړک په تقاطع د «غربي» [13] کوتل له لارې تيرېږي. دلته د سليمان خيلو کلي دي. د نهر له نالي څخه اوبـــهٔ ترلاسه کيدای سي خو دا ناله د دوبي په مياشت کې وچيږي. «بومي معلومات، ۱۸۹۴» امريکايی سرچينې په دې نوم د اوبو يو بهير ښيي.

* **نهرِ ببرو**: ۹ – ۳۲، ۵۸ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولايت کې مقر ته پر لارې د قلات د شـــمال ختيځ په تقريباً ۶ مايلی کې يو کلی دی.

**نهرفاضل :ـــ ۳۱، ـــ ۶۵**: ويل سوي چې دا د هرات د سړک پر غاړې له کندهاره تقريباً ۲۴ مايله ليرې د قريه جاتو يو کلی دی. «بيسکو»

**نهرِ حضرت** :وگورئ صالحان

**نهرِ جمشيد**: ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا په قريه جاتو کې کوهک ته نيږدې د ارغنداب د سيند پر ښی غاړه په قريه جاتو کې يو کلی دی. «بيسکو»

---

11 - NAGHURSALE
12 - Wazikhar range
13 - Gharbai pass



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**نهرِ جوزي**: ۳۷ – ۳۱، ۳۵ – ۶۵: دا کوهکرانو ته نیږدې په قریه جاتو کې یو کلی دی. «بیسکو»

**نهرِ کاریز**: ـــ ۳۱، ـــ ۶۵: دا «کال کان»[14] ته نیږدې د هرات د سرک پر غاړه د کندهار د لویدیځ په ۲۴ مایلۍ کې یو کلی دی.

**نهرِ ماله خې**: وګورئ: سوخته

**نهرِ محتشم**: ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا د «سپیروان»[15] په مقابل لور کې د کندهار د لویدیځ په ۱۷ مایلۍ کې د ارغنداب د سیند پر ښۍ غاړه یو کلی دی. «بیسکو»

**نهرِ نو روز خان**: ـــ ۳۱، ـــ ۶۵: دا د کندهار د سویل لویدیځ په ۱۳ مایلۍ کې، د ترنک د سیند پر غاړه له «خنجه کک»[16] ۲ مایله کوز یو کلی دی. «بیسکو». *د نوروز په نوم یو کلی د «نخوتي»[17] د سویل په تقریباً ۲ مایلۍ کې په ۲۸ – ۳۱، ۳۳ – ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.*

**نهرِ سفید بامیزي**: ۲۷ – ۳۱، ۳۱ – ۶۵: دا د کندهار د سویل لویدیځ په ۶۶ مایلۍ کې د ترنک پر ښۍ غاړه له خنجه کک دوه مایله کوز یو کلی دی. «بیسکو»

**نهر شاه بهادر خان**: ۳۷ – ۳۱، ۳۵ – ۶۵: دا د کندهار د لویدیځ په ۲/۱ ۶ مایلۍ کې کوهکران سره جوخت یو کلی دی. «بیسکو»

**نهرِ شهزاده سلیمان**: ۴۴ – ۳۱، ۴۳ – ۶۵: دا د کندهار د شمال په ۱۰ مایلۍ کې د ارغنداب پر کینه غاړه مرنجان ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو»

**نائب قلعه**: نائب کلا: ۳۴ – ۳۱، ۵۸ – ۶۵ «ج»: دا د کندهار د ختیځ په تقریباً ۲۰ مایلۍ کې مرغانکېچې ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو»

**نجوی**: ـــ ۳۱، ـــ ۶۵: دا په قریه جاتو کې په نهر مندوزي کې یو کوچنی کلی دی چې د کندهار د شمال ختیځ په تقریباً ۱۲ مایلۍ کې د ترنک د سیند پر ښۍ غاړه واقع دی. «بیسکو» اوسنی نقشې د «ناجوی»[18] په نوم یو کلی په ۳۴ – ۳۲، ۵۸ – ۶۵ «ن» کې ښیي.

* **نجم الدین**: ۵۸ – ۳۱، ۲ – ۶۶ «ن»: دا د ارغنداب د سیند پر غاړه د کندهار په ولایت کې د شیرجان اکا د شمال په تقریباً ۱ مایلۍ کې یو کلی دی.

**نخاس**: نخاس غر: ۲۰ – ۳۱، ۳۵ – ۶۷ «ن»: دا یوه غرنۍ لړۍ ده چې تقریباً له ختیځه مخ پر لویدیځ غځیدلې ده او د «پسین لوړه» شمالي او د هغې تداوم «کدني» اوب یللوونکي یا آب پخشان د ۳۲ مایلو په واټن جوړوي. شمال لور کې د دې لړۍ د اوبو د کښته کیدلو مخه کند او د سیلسن/ثالثون سیندونو ته ده. د دې لړۍ تر ټولو لوړه څوکه «مرد غائب» نومیږي چې ۹۱۸۹ فیټه لوړوالی لري.

---

14 - Kalkan
15 - Safedrawan
16 - Khanjakak
17 - Nakhuti
18 -Najoi


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې لړۍ کې دغه کوتلونه دي: بيرکه زيارت، «شـــګن رات»[19]، «شـــادِ خاک»[20] او بيانزي. د بيانزيو له کوتل څخه د «سنځل نالي» له لارې د پيشين سـرک تيريږي چې د سيلسن/ ثالثون د سيند او معروف پر لور پر مخ ځي. د نورو پاتي درې کوتلونو شرحه د هغوی تر اړوندو نومونو لاندې راغلي دي. «بيسکو» اوسنی نقشي د نخاس غر نوم ښيي.

* **ناخيل**: ۲۹ – ۳۲، ۳۹ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولايت کې شاه جوی ته پر لارې د آبِ ايستاده د لويديځ په تقريباً ۱۲ مايلۍ کې يو کلی دی.

**ناخوني**: ۳۰ – ۳۱، ۳۲ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د سويل لويديځ په ۱۱ مايلۍ کې مزنګان ته نيږدې يو کلی دی. «بيسکو»

**ناکودک**: ۳۰ – ۳۱، ۳۸ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د سويل لويديځ په ۹ مايلۍ کې «چپلاني»[21] ته نيږدې يو کلی دی.

* **نلک**: نالک: دا د روزګان په ولايت کې د «پيتاو کوه» په شمال لويديځ کې «پالان» ته نيږدې يو کلی دی.

**نلغام: نلګام**: نلګم: ۳۰ – ۳۱، ۱۹ – ۶۵ «ن»: دا د ارغنداب د سيند پر ښي غاړه د سپيروان له کلا څخه د بست د کلا پر لور د سړک په اوږدو کې يو کلی دی. «وګوريْ: نلکان» اوسنی نقشي د نلغام نوم ښيي.

**نلکن**: ــــ ۳۱، ــــ ۶۵: دا د ارغنداب د سيند پر ښی غاړه د عليزيو يو کلی دی، دا کلی د هغـهٔ سړک پر غاړې واقع دی چې د سپيروان د کلا له سيمي څخه په وتلو د مير آخور د کلا له لارې د بست تر کلاپورې تللی دی. په ۱۸۴۹ز کال کې دې کلي کې ۴۹ کورونه او تقريباً ۳۰۷ تنه استوګن وګړي ول. دا کلی د هغـهٔ نهر پر غاړې واقع دی چې د «رادهاب»[22] او سياه چوب له څنګه تيريږي. «بيسکو، آي. بي. سي.»

**ناوه ګی**: ـ ۳۲، ـ ۶۵: دا د خاکريز د درې په شمالي ګوټ کې يو کلی دی. «لينس»

**ناو بُرده**: ۴۷ – ۳۳، ۱۳ – ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د «کوهٔ نـوچـُکي»[23] په شمال کې او د «نهال» د اوبو د بهير پر غاړه يو کلی دی.

**نو ايسار**: (ښايي سمه بڼه ئـــې نو حصار وي- ژ): ۳۰ – ۳۱، ۴۹ – ۶۵: دا د کندهار د سويل ختيځ په ۱۰ مايلۍ کې «خوش آب / خوږو اوبو – ژ» ته نيږدې يو کلی دی . «بيسکو»

* **نو جوی**: ۴۱ – ۳۲، ۲ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د مير آباد د ســـويل ختيځ په څو مايلۍ کې د تيرين د سيند پر غاړه يو کلی دی.

* **نو خيز**: ۵ – ۳۲، ۴۷ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولايت کې د قلات د سويل لويديځ په تقريباً ۷ مايلۍ کې يو کلی دی.

**نـــورَک**: ۱۸ – ۳۲، ۱۲ – ۶۷ «ن»: دا د ترنک د سيند پر غاړه د زابل په ولايت کې د قلات او شاه جوی تر منځ تقريباً نيمايي لارې کې يو کلی دی. په دې نوم نور کلي په لاندنيو موقعيتونو کې دي: ۵۷ – ۳۳، ۱ – ۶۷ «ن»؛ ۵ – ۳۳، ۳۳ – ۶۶ «ن»؛ ۸ – ۳۳،۴۳- ۶۶ «ن»؛ او ۴۰ – ۳۳، ۳۱ – ۶۶ «ن».

**نـــورَک**: ۱۸ – ۳۲، ۱۲ – ۶۷ «ن»: دا د غزني – کندهار پر سړک د «سر اسپ» او «تازي» تر منځ له «سر اسپ» څخه ۱۲ مايله او له تازي څخه ۷ مايله ليرې د دمي نيولو يو ځای دی. دلته د کمپ سيمه ډيره محصوره او محدوده ده، او يو

---

[19] - Sheganrat
[20] - Shad -i- Khak
[21] -Chaplani
[22] - Radahab
[23] - Koh -i- Naochuki


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځواک چي هر څومره شمير ولري بايد په دري کي تيت سي. دا ځای ډير قيد دی ځکه چي ختيځي خوا ته ئـــي سيند او لويديځي خوا ته ئـــي غرونه دي. دلته ټکي ټکي ځايونو کي کرهنه هم سوی ده خو کوم کلی په دې شاو خوا وو کي نـــهٔ سته. سـويل ختيځ لور ته ۳ مايله وړاندي د موسـی خيلو يو کوچنی کلی دی خو دا سـيمه په عام ډول شـاړه او بيديا ده او ځوک په کي ميشت نـــهٔ دي. د ۱۸۸۰ز کال د اپريل په مياشت کي سر دونالد ستيوارت کله چي له کندهاره مخ پر غزني روان وو همدلته دمه وکړه. «گيســـلي» په دې نوم نور کلي په ۵۵- ۳۰، ۱۳ – ۶۶ «الف» او ۵۳ – ۳۰، ۹ – ۶۶ «الف» کي موقعيت لري.

**نو روز:** ۲۸ – ۳۱، ۳۳ – ۶۵ «ج»: دا د خاکريز په دري کي يو کلی دی.«لينس»

**نو روز:** ۳۶ – ۳۱، ۳۳ – ۶۵ «ن»: جنرال پليسـر چي د سـليم له کاريزه تر کوهکران پوري د مي د مياشـتي پر دوهمي مارش وکړ په خپل راپور کي وايي چي موږ د نوروز د گودر له لاري له ارغندابه واوښتلو، دا گودر د سيند د اوبو او د کندهار – گرشـک د سـړک له تقاطع نيم مايل کښـته واقع دی او د وروسـتيو سيلابونو له کبله په سيند کي اوبـــهٔ دومره ژوري وې چي عملاً اوښتل ناشوني ول. د نوروز گودر مو ډير ښـــهٔ گودر وموند ځکه دلته د دې گودر په هيڅ ټکي کي د اوبو ژوروالی له ۳ فيټو ډير نـــهٔ دی؛ کڅوري او بارونه او نور مو د کومي پيښي له پيښيدلو پرته تير کړل. «گيسلي» اوسـنی نقشـي دا نوم د «نو روزي» په ډول ښـيي. د «نو روز جوی» په نوم يو کلی په ۳۱ – ۳۱، ۱ – ۶۷ «ن» کي واقع دی.

## نور بيا

## نو روز پښه: دا د کافرڅاه....

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ